# اوربند

# ORBAND

که غواړئ د سولې او پخلاینې دره
بېرته اوسي، اوربند ټینګ کړئ

دور سوم، شماره شانزدهم، ۲۵ جوزا، ۱۳۹۸



## پدې ګڼه کې...


- د افغانستان د کرنیزو ځمکو لمر بدل او بې غوري
- مېلمه افغان چارواکي او زموږ ټګلاره
- امریکا هم باید یو ضمانت ورکړي
- له لندن نه د راغلي لیک خواب
- هېڅه هم پټ نه پاتې کېږي
- ماضي ته د ور ګرځېدا واټ
- پر بدو او باج ار ولسمشران
- عظیم ارګ، خڅنې خبرې
- ټابلېټ K او اغېزې یې
- بهرني افغانان
- ناولي ایتلاف
- سیکولاریزم


## بیداری

آزرده گی از ستم ملی پاکستان، مردم را بیدار کرده است. پشتون های جغرافیای ستم، هرچند در جبر تاریخی، در حصار هویتی مانده اند که ریشه ندارد، اما هفتاد سال پس از تزویر سیاسی، کاسه ی صبر ندارند.




## درې واکمن- یو برخلیک

### د تاریخ په هدیره کې درې محکوم قبرونه

ماته د ولسمشر انجام د هندوستان د وروستي پاچا بهادر شاه ظفر او مسلمان هسپانوي ریاست وروستي پاچا ابو عبدالله محمد را یادوي. ظفر پاچا د خپل ژوند وروستۍ ورځې په رنګون کې له انګریزانو سره په بند کې تېرې کړې. انګریزانو په رنګون کې یوه «هندي چوکۍ» ورته جوړه کړې وه، پاچا سلامت به پکې ناست و او د باران څاڅکي به یې شمېرل. خپلو لیدونکیو ته به یې په تلوسه ویل: زه هغه بدمرغه یم چې په هېڅ ځای کې د ښخېدو لپاره به هم ځای ونه لرم..!











Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


# اوربند

اونیزه

رَبِّ اجْعَلْ هَذَا بَـلَداً آمِناً

دور سوم شمارهٔ شانزدهم، ۲۵ جوزا، ۱۳۹۸


## نیولیک


مېلمه افغان چارواکي او زموږ

تګلاره/ د پښتې دويم مخ

امريکا هم بايد يو ضمانت ورکړي/ ۲

ناولی ايتلاف/ ۳

عظيم ارګ، خچنې څېرې/ ۳

ټابلېټ K او اغېزې يې/ ۴

ماضي ته د ور ګرځېدا واټ/ ۵

بيداری/ ٦

له لندن نه د راغلي ليک ځواب/ ۷

سيکولاريزم/ ۸

د افغانستان د کرنيزو ځمکو لغړېدل او بې غوري/ ۹

هېڅه هم پټ نه پاتې کېږي/ ۱۰

پر بدو او باج اړ ولسمشران/ ۱۱

درې واکمن- يو برخليک/ ۱۲

بهرني افغاني/ د پښتې درېيم مخ


## اوربند

د تلپاتې سولې لومړی ګام
اوربند؛ د ملي جرګې يواځېنی شرط دی
اوربند؛ د روغې جوړې پيلامه ده
اوربند؛ د جګړې مخنيوی دی
اوربند؛ ملي غوښتنه ده
اوربند؛ د هر افغان غږ دی
اوربند؛ د هرې مور هيله ده
اوربند؛ ملي اړتيا ده
اوربند؛ ټيکاو دی
اوربند؛ د سوکالۍ لوری دی
اوربند؛ د بسياينې لار ده
اوربند؛ د پرمختګ اساس دی
اوربند؛ ژوند دی
اوربند؛ له مرګ سره مبارزه ده
اوربند؛ د بربادۍ مخنيوی دی
اوربند ټينګ کړئ، له اوربند سره کېنئ، پر اوربند راټول شئ.

**بسم الله الرحمن الرحيم**

### سرليکنه

## د تپلې جګړې د محکوميت پرېکړه

موږ د اوربند غږ هغه مهال پورته کړی و چې له هرې خوا د جنګ داني ټولېدلې، د سولې خبرې ناشونې ګڼل کېدلې او د وروستۍ پرېکړې په اړه ټوپک ته سترګې نيول کېدلې.

له ښه بخته اوس په ټولمنلې کچه د جګړې پای له سوبې او ماتې اخوا په سوله، خبرو او اوربند کې لټول کېږي، ځکه خو د هېواد په کچه داسې لوری او اړخ نه ليدل کېږي چې له سولې او خبرو سره د مخالفت جسارت وکړای شي، ټول د سولې په اړه په هوکړه يوه خوله دي.

دغه حقيقت اوس د ټولو پر وړاندې دی چې جګړه د کومې غاړې بری او د بلې ماتې نشي را منځته کولی، بلکې خبرې، پوهاوی، جرګه او سوله ده چې دواړه غاړې، بلکې ټول له بايلاته ژغوري، ځکه چې سوله بايلونکی نه لري، د سولې پايله د ټولو بری دی.

د تېر کال د کوچني اختر درې ورځنی اوربند سولې او اوربند ته ملي لېوالتيا په ډاګه کړه، له همدې ځايه وه چې طالبانو په تېر وړوکي اختر کې، د اوربند په نه اعلان بيا هم د دوی به خبره پر نا اعلان شوي اوربند اعتراف وکړ چې تر مخې يې د سولې پر وړاندې له مودو پرتو کنګلونو د بشپړې ويلې کېدا هيلې لا پسې وغوړولې، له همدې ځايه اوربند د ټولو غږ، هيله او غوښتنه ګرځېدلې، اوربند په لويه کې د جګړې پای په نښه کوي، د جګړو مخنيوي ته لار پرانيزي او د جګړې پای ته د ټکي موندلو ورکه په لاس راکوي، د مرګونو، وير او وينې تويېدو څپه او لمبه کراروي.

همدغو پرمختياوو او امېدونو ته په کتو «اوربند» نور هره اونۍ پر ټولو د سولې او جرګې د ننواتي ځولۍ ګرځوي او پر ټولو خواوو د اوربند غږ کوي.

اوربند له دغې ګڼې سره پر ليکه هم لوستل کېدای شي، ځکه چې اوربند نور ملي، سيمه‌ييزه او نړيواله اجماع ګرځېدلې، دغه اجماع د تپلې جګړې د محکوميت پرېکړه ده.


### امتياز



**افغانستان**

### چلوونکي



**افغانان**

### خپرندوی

**دانش خپرندويه ټولنه**

### اړيکي

۰۷۰۰٦۳۹۳۸۳ - ۰۷۸۸۰۴۲۸۲۱

### برېښليک

spinsahaar@gmail.com

### بيه

۲۰ ؋

(c) ketabton.com: The Digital Library




# امریکا هم باید یو ضمانت ورکړي

## افغانستان ته د بن لادن لېږد، د سعودي، امریکا او پاکستان ګډه لوبه

**د سولې په خبرو کې یو ضمانت باید امریکا ورکړي، دغسې یو ضمانت ښایي د طالبانو او حکومت د ګډې غوښتنې په توګه وړاندې کړای شي، په ټوله کې به دغه تضمین د افغانانو ګډ ملي او سرتاسري دریځ ځلولی وي. په پخوا کې له سخت دریځو، بنسټپالو او ترهګرو سره د امریکا د اړیکو او مرستو حقیقت د ټولو پر وړاندې دی، له همدې ځایه باید افغانان دغه ډاډ تر لاسه کړي چې امریکا په راتلونکي کې د خپلو موخو، ګټو او سیالیو لپاره د سخت دریځو، بنسټپالو او دې ته ورته ډلو مرسته، تمویل او پالنه خپله ستراتېژي نه ګرځوي. ...**

شهرت ننګیال

که امریکا یا نړیواله ټولنه غواړي له افغانستانه د ترهګرو او ترهګرۍ د ګواښ د مخنیوي ډاډ تر لاسه کړي، افغانان هم دغسې یوه غوښتنه او حق ځانته خوندي ګڼي. افغانان ښایي په دې باوري شي چې امریکا بیا ځلې د خپلو سیالیو، ګټو او موخو لپاره د جهاد یا مذهب په نامه د اخوانیانو، مجاهدینو، القاعده او داعش په څېر نورو اورپکیو پالنې، مرستې او استخدام ته ور ونه ګرځي.

که پر افغانستان د پخواني شوروي په یرغل کې د متحده ایالاتو د رول او هڅونې پر سر له بحث تېر شو، د اخوانیانو په را ټوکونه، سمبالښت او د تنظیمونو او اورپکو په پالنه او تمویل کې د امریکا مرسته او ونډه له هېچا پټه نه ده.

د جهاد په نامه، د جهادي ایډیالوژۍ له مخې د شوروي او کمونېزم پر ضد د اورپکیو، سخت دریځو او بنسټپالو په تمویل او مرسته کې د امریکا رول او ونډه څرګنده ده.

همدا امریکا وه چې د شوروي اتحاد او کمونېزم پر ضد یې، تنظیمونه، اورپکي، سخت دریځي او بنسټپال د مجاهدینو په نامه تر دیني او مذهبي چتر لاندې د پاکستان له خاورې سمبال او افغانستان د شوروي او کمونېزم پر ضد د نړیوالې جګړې پراخ سنګر وګرځاوه.

له سوډان څخه د بن لادن او القاعدې په لېږد کې د امریکا رول او پالیسي هغه بحث دی چې تر اوسه هغسې چې لازمه وه پامور نه دی بلل شوی، خو حقیقت دا دی چې له سوډان څخه افغانستان ته د بن لادن په لېږد کې د سعودي، امریکا او پاکستان رول، خوښه او ونډه اوس د کره شواهدو په کچه را برسېره شوې ده.

دغه لېږد د همدغه مثلث (امریکا، سعودي او پاکستان) د ګډ پلان او پالیسی پایله ده، په دغه لوبه کې د برهان الدین رباني اداره، ځینې تنظیمي مشران او د ننګرهار د هغه وخت شورا د یو لړ وعدو، وعیدونو او نغدو بډو په بدل کې ور ګډه کړای شوه، بن لادن چې سوډان کې له خپله اړخه د پانګونې په ژمنو د ځینو تعهداتو له مخې د مېشتېدا فرصت تر لاسه کړی و، په نه پلي کېدا سوډان ته سیاسي بوج ګرځېدلی و.

سعودي چې وار له مخه یې له بن لادن تابعیت اخیستی و، دې ته نشوای چمتو کېدای چې نوموړی بېرته پخپله خاوره ومني. امریکا د تېر په څېر په راتلونکي کې د منځنۍ اسیا، روسیې، چین او ایران پر وړاندې د القاعده او بن لادن اړتیا له پامه نشوای غورځولی، پاکستان د کشمیر په داعیه کې بن لادن ته د امېد سترګې لرلې، له همدې ځایه وه چې بن لادن ته یې افغانستان د وړ موقعیت په توګه په نښه کړی و.

د سعودي او امریکا د سیاست اړخ پر همدې ټکي لنګر غورځولی و، چې افغانستان د اورپکیو، سخت دریځو او بنسټپالو د تجمع مرکز وګرځوي، چې له یوې خوا یې په مناسب وخت کې د خپلو موخو، ګټو او سیالیو لپاره استخدام کړای شي او له بلې خوا د بن لادن پر محور د اسلامي هېوادو د اورپکیو او سخت دریځو په راټولېدا په راتلونکي کې ورسره د حساب کتاب فرصت پخپل لاس کې ولري، په دې توګه په بادي النظر کې ګورو چې د تروریزم ټول ډولونه د امریکا له لاسه د افغانانو غاړې ته لوېدلي دي.

له همدې ځایه طالبان او د کابل سرکار ښایي په ګډه له امریکا کره او کوټلي ضمانتونه تر لاسه کړي چې بیا ځلې افغانان او افغانستان د خپلو موخو، ګټو، سیالیو او جګړې ډګر او سنګر ونه ګرځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ناولی ایتلاف

سکندري

**د افغانستان په قضایاوو غربېدل څه آسانه خبره نه ده، خو ځیني نابالغ یاران یکي کله کله داسي وغربېږي چي سړی ورته هک پک پاتي شي او کله چي ځانته سیاسیون ووایي نو خدای شته چي غوني مي ځیږه شي او کله چي دوی خپل بندار ته «ایتلاف بزرګ» نوم ورکړي نو بیا راشه که تودېږې، که څوک ددي بدبختانو ماضي ته وګوري د دوی تعمیري اړخ ډېر کمزوری او د تخریبي برخي برجونه يي بلا ډېر دنګ دي...**

... څوک چي ددي دېرش کلن ناورین د ناخوالو پېچومو او ګړنګونو عیني شاهد وي نو ددي ښاغلیو ویناوو ته به خامخا په ډکه خوله خندا کوي.

په دي نامقدسه ایتلاف کي مي داسي لنډه غر تر سترګو شوي چي د بي ګناه افغانانو د مرګونو زنّارونه يي په غاړه دي، د ٦٠ زره کابلیانو د وینو پوروړي يکي هم نېغ نېغ کېدل! غاصبین، د مخدره موادو قاچاقبران، لساني او مذهبي تفرقه اچوونکي، پردي نوکران د افغان له نامه منکر، د دوشنبې او سه شنبې زامنو هم یکي سرونه خوځول او د «رقصِ مرده» اختراع کوونکي هم یکي تور مخ ناست ول او د حضرت صاحب خالد بن ولید یکي هم د هندي فلمونو د ویلن اکټونه کول او زما د ژبي ویونکي یو څو سرکوزي یکي هم لکه د نابلل شویو مېلمنو او د بامیانو د بتانو په څېر ناست ول او د مکي یو دوه قران خواره مي یکي هم په تور و سپین دستار کي ولیدل، زما قلم هم ددي بدمخو د نومونو اخیستل ځان ته عار ګڼي او پدي بندار کي مي هغه قاتلین هم تر سترګو شول چي مخونه يي په سپینو و تورو وږیو پټ کړي ول.

د جعل و تذویر د لومړۍ درجي استادان هم یکي له ورایه ښکارېدل او د شر و فساد سرکښ یکي هم اوتو کړي ناست ول. نور جان، انور جان، یونس جان، نبیل جان، رباني جان، رشید جان، همایون جان، حامد جان، اسمعیل جان، ضیاء جان، علي جان، ظاهر جان، امان جان، امر الله جان، رسول جان، ګل جان، بي بي جان او د پیو یو بل مجنون -اسد جان- هم ورته بډي را وهلي -دا چي کومه تېروتنه واقع نشي دوی ته مي د جان کلمه له ډېري میني کارولي، په عیسوي عقیده باور لرونکي جان ته په ډېر درناوي ګوري- ماته خو دا ایتلاف په خره بار بنګړي ښکاري، که هر چا په یوه سوټي وواهه بل سوټي ته به يي حاجت پاتي نشي.

دا ایتلافونه د اوبو د سر له څګه زیات اهمیت نه لري، ځکه په څلورو لسیزو کي یوه ایتلاف هم د حفیظ الله امین د واکمنۍ دوره نه ده پوره کړي او دا ایتلاف به د حضرت صاحب د واکمنۍ موده هم پوره نکړي او د مکي، اسلام آباد او ماهیپر او سروبي د معاهدو په څېر به په کاغذونو کي پاتي شي.

دي مردارخورو خو د قدرت په خاطر یو بل منلي، ددي کار لپاره د زهرو جامونه هم په سر را اړوي، ګورئ چي دا پخواني قاتلان د ولس د مرۍ پرېکولو یو چانس هم نه ضایع کوي.

بله واورئ! که د یوه کس د قدرت تله درنه شوه نو بیا يي نور ښاغلي نه مني زما په اند به دا د چنډخانو ټول هېڅکله هم سر ته ونه رسي. په خدای یقین وکړئ چي زه د شاه جهان ماما له زوی نه هم ګیله مند یم چي دا منفور تجرید شوي او ناولي څوک په تاوده بازار کي په یوه غیران هم نه اخلي او هر څوک به هر وار کټي کي حسابوي، ټول افغانان ورته په کرکه او نفرت ګوري، دي بد سترګو د شیرپور د کورونو بلند منزلونو او ډالرو مزې لیدلي، دوی له پاخه سړک نه پښه هم نه اړوي، د غرونو ختل خو پرېږده، د غره کټو ته هم زړه نه ښه کوي. دا کاغذي زمریان په تورو پنجرو کي ښه ښکاري نه په یو خروار لېټۍ کي.

د شاه جهان ماما زویه! دوی په یو ځل کتو هم نه ارزي.

د غره هومره لوی فکر راپېښ دی چي دا ډېره ماران څنګه ځانته سیاستوال وایي، سیاست مداران خو ملکونه جوړوي، د ولس زړونه رغوي، دوی خو ملک وران کړی، ولس يي وژلی او خپل ځانونه يي پړسولي دي.

که دوی په قدرت کي وي هر څه روا وي او که له قدرت نه ګوښه شي هر څه ناروا شي، ددي شرمېدلیو په خوله د دوی خپلي مېرمن هم سړک ته نه راځي چي هغوی خپل فېشنونه د دوی په...

پام کوئ! دوی ته سیاسیون ونه وایئ، دوی ته سیاسیون ویل په ګناه کبیره کي راځي، ځکه د دوی لاسونه د ملت په وینو سره دي. واورئ! دوی د بلبک واټر له کرایي کښو نه هم بتر دي. زه د دوی په هکله دومره بشپړ معلومات لرم چي هره ورځ ددي بدمخو په کیسو د اخبار مخ تورولی شم.

راځئ! د دوی د ایمانونو پیمانه هم درته ښکاره کړم، د پېنځو تور پګړیو طالبانو له وېري يي په ځان پسي پلونه الوځول، له ډاره له سوړو او غارونو څخه نه را وتل. دا بدمخي سیاست مداران نه دي، دوی د سیاست «ماران» دي او د مار وژل په لمانځه هم روا دي.

خدای دي دا ملت هم په سرو مچیو وخوري چي دوی اوس هم بوتان په بت پرستو ساتي، زه دي موسمي او کذابو ایتلافونو ته دا بیت ډالۍ کوم:

امامان د تذویر راغله فاتحه د ایمان اخلي
پرښتي تښتي له شرمه شیطان ځان ساتي له شره

یو چا راته وویل، دا ایتلاف نور هم غټېږي! ما ورته وخندل، پوکڼۍ هم ډېره غټه وي، خو که ستن دي ور وړاندي کړه چوي، دا ایتلاف پړسېدلي پوکڼۍ ښکاري، نن وي که سبا درز به يي واورې.

# عظیم ارګ، خچني ځیري

اجمل روان

په دي وروستیو کي د ولسمشر پخواني سلا کار جنرال احمدزي له یوه خصوصي تلوېزیون سره په مرکه کي وویل، په ارګ کي د فحشا د ترویج لپاره عملي کار کېږي. هغه د دریو کسانو نومونه یاد کړل. له دي کسانو څخه د ولسمشر سلاکار فضل فضلي، د ولسمشر د دفتر رییس سلام رحیمي او د ولسمشر ویاند هارون چخانسوري دي. له دي وروسته ډېرو رسنیو پر دي موضوع تونده بحث وکړ او ان نیویارک ټایمز هم د جنرال احمدزي خبري تایید کړې. احمدزي پخپلو خبرو کي ویلي، ډېری ښځینه وکیلانو د ډېرو لوړو رایو په بدل کي د همدي جنسي اړیکیو په وسیله د ولس کور ته لار پیدا کړه. **له دي سره جوخت مریم وردک، ویدا ساغري، فرخنده زهرا نادري او ډېرو نورو په دي اعتراف وکړ چي له موږ څخه هم د دندي په بدل کي همدا غوښتنه شوي وه.**

په ارګ کي زیاتره داسي کسان کار کوي چي په اروپا او نورو بهرنیو هېوادونو کي لوی شوي دي، لکه داود نورزی، نادر نادري او نثار بارکزی چي په عیاشۍ کي ځانګړی نوم لري او داسي هم ویل کېږي چي داود نورزی وایي، زه به په عیاشۍ کي د احمد ظاهر ریکارډ ماتوم. **اوس خبره دا ده چي په بهر کي خو عیاشي او شرابخوري عادي خبره ده، دا خلک هلته په نایټ کلبونو کي روږدي شوي دي، دوی د افغانستان له تاریخ او ارزښتونو سره سم بلد نه دي. که تاسي په دولتي چوکاټ کي د ښځو ګومارني وګورئ، په دفاع وزارت او کورنیو چارو وزارت کي دوه بې تجربې نجوني چي یوه ورځ يي هم نظامي زده‌کړې نه دي کړې، په څه مفهوم ګومارل کېږي؟! او تر څنګ يي هره ورځ د پېغلو نجونو د مقررۍ لړۍ ښه ګرمه روانه کړې ده.**

**له ډېرو معززو کسانو مي اورېدلي چي د فضل فضلي او سلام رحیمي ملاقات او رسمي لیدني ته په کال کي هم نشي ور برابرېدلی! وایي، د ولسمشر لیدل د دوی تر ملاقاته ډېر اسانه دي، خو بل لور ته پېغلي نجونه په ډېرې اسانۍ هر وخت يي چي زړه وغواړي ددوی ملاقات کړای شي.**

له دي سره سره په ارګ کي د مډرنو ښځو بازار ګرم دی. د ولسمشر مېرمن رولا غني (لومړۍ مېرمن) د پروموټ پروژي په نامه میلیونونه ډالر د ښځو په برخه کي مصرف کړل، پدي پروژه کي هم هغه نجوني -چي د مدني فعالانو په نامه وي او اکثره يي له بهره راغلي وي- د همدغي فحشا د ترویج لپاره يي کار وکړ. **پروموټ والو د ښځو په برخه کي څه وکړل؟!** په ښارونو د سوالګرو لویه برخه ښځي دي ، **د ښځو په ژوند کي کوم مثبت بدلون راغی؟!** تر دي حده پوري چي څو تنه ښځینه نوماندانو له څو میاشتو راهیسي ارګ ته نږدي د تحصن خیمه وهلي ده او همدا وایي چي زموږ په رایه معامله وشوه، اواز مو دي واورېدل شي! **دا بي بي ګل چېري ده؟! ولي ددغو مظلومو خویندو اواز نه اوري؟!**

اوس خبره دا ده چي ښځه زموږ مور و خور ده، ښځه انسان ده، د کار کولو حق لري، خو تر ټولو بده او شرموونکي خبره دا ده چي په ارګ کي د دندي په بدل کي ورڅخه ناجایزه غوښتنه کېږي. ارګ خو زموږ د عزت، عزم او ویاړ کور و. دا عظیم کور کله هم دومره نه و سپک شوی. **افرین دي د ډاکټر نجیب په پوهه، بصیرت او وړاندوینه وي، چي ویل کېږي د ولسمشر غني پلار ملک شاه جهان ته يي ویلي ول، ستا پر زوی دا چپنه ډېره اوږده ده.**

د ارګ واکدارانو! ستاسي چي جنسي جنون او غریزه دومره قوي وه، امکانات مو درلودل، په خارج کي به مو دا مردار خورګي کړي وای.

**تاسي د افغانستان په عظیم کور ارګ کي یو تاریخي پېغور پرېښود. په داخل کي خو څه کوي، په بهر کي هم نن ټول ستاسي پر دي ناروا کړنو بحث کوي او ټول وطن شرموي. تاسي به بیا له ملت څخه رایي غواړئ؟! دا ملت غیرتي ملت دی، د هر څه زغم لري، خو د ناموس پر وړاندي چوپ نشي پاتي کېدلی!**




# ټابلېټ K او اغېزې يې

داکتر ظهیر


**په هېواد او ګاونډ کې د نورو نشه‌يي توکیو تر څنګ، ډېر ځوانان په ټابلېټ K روږدي دي. دا ګولۍ په 2008 کې لومړی ځل افغان امنیتي ځواکونو په هلمند کې وموندلې. په دې پوهېږئ چې ټابلېټ K څه شی دی؟ پر بدن څه اغېز لري؟ او څنګه ځان باید ځنې وساتئ؟**

**ټابلېټ K، چې اکستاسي يې هم بولي، یو ډول نشه‌يي توکی دی چې د امفتامینونو له کورنۍ سره تړاو لري. کېمیاوي نوم يې مېتایلین ډای اوکسي مېتاامفتامین (3,4-Methylenedioxymethamphetamine)، لنډښه يې MDMA، فرمول يې (C10H13NO2) دی، CAS نمبر يې 9-10-42522 دی او جوړښت يې په لاندې ډول دی:**

## تاریخچه:

**اکستاسي لومړی ځل په 1914 کې د مرک (Merck) په نامه یوې جرمنۍ درملسازۍ کمپنۍ د ډنګرتوب او بدلوهۍ (اشتهاء ضد) لپاره جوړ کړل، خو کابو 65 کاله تر ې چا ګټنه ونکړه. وروسته جرمني ډاکترانو دا درمل هغو کسانو ته ورکول چې په نړیواله جګړه کې يې اروايي شوک لیدلی و. بیا يې پام شو چې تر ګټې يې زیان ډېر دی، نو ځکه يې د جرمني حکومت کاروَنګ بند او غیر قانوني اعلان کړ. دا خبره د جرمني ډاکترانو او ارواپوهانو تر منځ متل ګرځېدلی چې د اکستاسي په تجویز سره يې د جګړې بلهاریان بیا بلهاري کړل. ...**

د امریکا متحده ایالاتو حکومت هم په ۱۹۸۵ کې ددې درملو کاروَنګ بند کړ خو سربېره پر دې يې خلک د شپې په مېلو او بانډارو کې کاروي.
خالص اکستاسي سپین رنګه پوډر دی.




د چناسو/ پوپنک بوی لري. ناسوچه بڼه يې سره او قهوه‌یي رنګونه لري. ټابلېټ K په ناقانونه توګه په ازمونتون (لابراتوار) کې په کېمیاوي ډول د امفتامینونو په مالیکولي جوړښت کې د ادلون بدلون په پایله کې را منځته کېږي. دا چې هر فرد/ کمپنۍ يې پخپله خوښه پخپل ازمونتون کې جوړوي؛ نو ځکه دا ګولۍ له یوې بلې سره جوړښتي توپیر لري. اکستاسي په هر هېواد کې بېلابېل نومونه لري. په افغانستان کې يې ټابلېټ K، د خوښۍ درمل، پنج ستاره، ریډبال، یو و دوه، ډانس، او سوپرمن بولي. دا ګولۍ راز راز بڼې لري چې پر ځینو K لیکل شوي وي، ځینې يې زړه وزمه وي او پر ځینو د ستورو انځور وي. اکستاسي نن سبا پر ګولیو سربېره؛ د پوزې د پوډرو، کپسولونو، پلستړونو، د دودولو او ستنې (پیچکارۍ) په بڼه کې هم موندل کېږي. په هره ګولۍ کې يې د نشه‌یي توکیو کچ له ۹ څخه تر ۱۱۷ میلي ګرامو پورې وي او د نورو ور ګډو کېمیاوي توکیو کچ چې لمسوونکی خاصیت لري؛ توپیر لري.

ځوانان يې په ټولیزه توګه د سندرو او ګډا په بانډارونو کې د خوښۍ او هیجان د ډېرښت او همدارنګه د نوریزې (جنسي) پیاوړتیا لپاره کاروي چې پایله يې د ناخوندي نوریزو اړیکیو او د ساري ناروغیو لکه؛ ایډز، تور ژېړي، تور ټپ او نورو د لېږد لامل کېږي. په افغانستان کې يې ډېری نوي ځوانان په ښوونځیو کې تر لاسه کوي او په ښوونځیو او کورونو کې يې خوري.


ټابلېټ K د انسان روغتیا ته دومره زیان لري چې حتی د یوې ګولۍ خوړل يې د مغز ژونکي (حجرې) وژني یا زیانمنوي او د اندني (تفکر) او هوډګرۍ ځواک يې ځپي.

ددې درملو زیانونه دومره ډېر دي چې حتی ځینې يې د بیا رغېدنګ وړ نه دي، ځکه خو يې د نړۍ په هر کونج کې کارول بند دي.

دا ګولۍ په لومړیو کې د خوړونکي پر روغتیا ډېر اغېز نه پرېباسي؛ یواځې نشه راوړونکی خاصیت لري، خو د وخت په تېرېدو سره پر ټول بدن په ځانګړې توګه پر عصبي سیستم او سترګو ناوړه اغېزه کوي. تر دې چې ځینې کسان ځان وژنې ته اړ باسي.

### پر مغز او بدن د ټابلېټ K اغېزې:

ټابلېټ K له ۲۰ تر ۹۰ دقیقو وروسته پر مغزو اغېز کوي، له ۲ تر ۳ ساعتو پورې يې اغېز زیات وي، او تر ۲٤ ساعتو پورې خپل اغېز ساتي. دا ګولۍ حافظه، د پېژندنې حس او اندیز ځواک اغېزمنوي او ډېر کله اضطراب او وېره را منځته کوي. کله ناکله يې روږدیو کسانو ته داسې اروايي ستونزې پېښېږي چې د درملنې وړ



(c) ketabton.com: The Digital Library

نه وي. که چا اوه کاله وړاندې یو ځل هم ټابلېټ K خوړلې وي؛ په CT-Scan کې یې پر مغزو ناوړه اغېز لیدل کېدای شي.
هغه کس چې ګولۍ خوړلې وي؛ ډېر هېښ (هیجاني) او مست وي. ساعتونه ساعتونه ګډا و ټوکې کوي او خاندي، خو وروسته ستړی، ګډوډ، ناقرار، ناخوښه، خوله یې وچه او د بدن تودوخه او د زړه ټکان یې لوړېږي چې کېدای شي د مړینې لامل یې شي، ځکه چې د زړه د ټکانو ګډوډي، د وینې لوړ فشار، د بدن د اوبو او منرالي توکیو لکه سوډیم او کلورین کمښت او د پښتورګو ناسم کار پر مغز ناوړه اغېز کوي چې کس د مرګ تر پولې رسولی شي.

**د ټابلېټ K اوږدمهاله اغېزې:**
**لومړی:** بې موخې، بې مسوولیته او بې پروا ژوند.
**دویم:** له ورځنیو چارو، لکه کار، لوست، تکړښت، ناستې پاستې څخه ناخوښي او بې علاقه‌توب.
**درېیم:** د ژامې د غړیو کمزوري او د دواړو ژامو نښت.
**څلورم:** د غاښونو سولېدل.
**پینځم:** د کورنۍ له غړیو او ملګریو سره سوړ چلند او حتی د هغوی پرېښودل.
**شپږم:** د سترګو د لید کمی.
**اووم:** د خوب ډېرښت.
**اتم:** عصبي ګډوډي، ډېر احساساتي کېدل او وېره.
**نهم:** پر ځان د باور کمی.
**لسم:** له څه مودې وروسته نورو نشه‌يي توکیو لکه اپیمو، کوکایینو او هېرویینو ته لېوالتیا.
**یوولسم:** د پوستکي ستونزې او ټپونه.
**دولسم:** په نرانو کې د تیانو غټېدل.
**دیارلسم:** د نرانو شنډتوب.
**څوارلسم:** د هډوکي پوکي او ژر ماتېدنګ.
**پینځلسم:** ځان‌وژنې ته زړه ښه کول.
**د تشخیص لارې چارې:**
د کاروونکي له میتیازو، پوستکي او وېښتانو څخه نمونه اخیستل کېږي.
**درملنه:** وړاندې مو وویل چې ټابلېټ K دماغي ژونکي (حجرې) له منځه وړي او ددې ژونکیو (حجرو) بیا رغون ناشونی یا هم ډېر ستونزمن دی. ځانګړې درملنه نه لري. هغو کسانو ته چې رواني ستونزې ور پېښې شوې وي؛ د اوږدمهال لپاره دې یې اروايي درملنه تر سره شي. د مخنیوي تر ګردو ښه لاره دا ده چې مور و پلار دې خپل نوي ځوان بچي له نژدې وڅاري!

# ماضي ته د ور ګرځېدا واټ



زه له ماضي دومره وېرېږم لکه له تیارې چې وېره لرم، دا زما کمزوري ده، له تیارو ویره پر ما له وړکتوب تپل شوې.
د ماښام د خړې له غوړېدو سره به یې له کوره دباندې وتلو ته نه پرېښودلو، شپه یا تیاره د شیشکو پېریانو لپاره وه، په دې مانا چې له ماښام سره د پېریانو شیشکو د راج وخت را دبره کېږي.
له ماضي د همدغې وېرې له امله ماته ددې کره پته نشي لګېدلی چې امیر شېر علي خان څو ځله پاچاهي کړې، امیر دوست محمد خان پر دغه خاوره څو کرته د واکمنۍ بخت ازمویلی دی؟ ایله دومره پوهېږم چې پر دغه خاوره د تاریخ د تکرار خونړۍ معرکه توده ده او تکرار د عربو په کلام کې شَنِیع دی.
کله چې رسنۍ ګورم، اورم او لولم چې یو څوک په ټینګو او کلکو ټکو لګیا وي چې ماضي ته د ور ګرځېدا مخه یې پخه ډب کړې، وایم دا خبره مې بیا بیا اورېدلې وای، ځکه خو د ټلوېزیون د ریموټ ریورس تڼۍ کېکاږم، خو کابل کې چې د ټکنالوژۍ دغه اسانتیا نشته خپل زړه ددغسې خبرو په تکرار بسیا او هوسا ساتم، سرې کرښې که سرکار هر څه ګڼې، خو ماته ددغه ډب پاخه بنسټونه ښکاري، د تېرو اتلسو کالو لاسته راوړنې که لږ دي که ډېرې، که څه دي، که نه دي، خو که آدم نشته بوی یې شته، هسې هم موږ له خوند، خرپ ته ډېر هوسېږو، همدا بوی او خرپ یې ماضي ته د ور ګرځېدا او تکرار پر وړاندې د ډب ستر کمر ښکاري، ماته دا ټوله جګړه د ماضي وېروونکې څېره برېښي، هغسې څېره چې کله یې پر ککرۍ د وحشت ښکر راختلې وي او کله یې پر څټ د شرم لنډه لکۍ وي، دا ښه او زما د زړه خبره ده چې له صفر څخه د پیلولو تجربې ته نه ور ګرځو، خو درېغه چې د صفر په پټ کمال او عظمت مو هم سر خلاص ساتلی وای.
صفر داسې کاپر شی دی چې که خپله کوم حیثیت نه لري، خو چې له یوه سره یې کېږدې لسو ته یې لوړوي، له لسو، سل درته جوړولی شي، له سلو، زر...
له ماضي د ډار خپسه اوس هم زما پر مرۍ ناسته ده، د ماضي یوه ستره محکمه وه، ددغې سترې محکمې یو رییس یا قاضي القضات مولوي محمد شاه فضلي و، چې په تنظیمي کچه د مولوي محمد نبي محمدي د حرکت مرستیال و. کله چې د پېښور تړون له مخې د بر هان الدین رباني څلور میاشتې موده پای ته ورسېده، مولوي محمد شاه فضلي د سترې محکمې د رییس او قاضي القضات په توګه د رباني د جمهوري ریاست موده په همدغسې ټکو اعلان کړه، لکه په دې اوس کې چې سترې محکمې د محمد اشرف غني ولسمشري تمدید کړه...
تصادف یې بولې که تصادم په کوم مفهوم او محتوی چې له کومې مرجع د رباني موده غځول شوې په هماغه مفهوم او محتوی د غني د ولسمشرۍ موده تمدید کړای شوه:
«و بدوام سلطنةِ سلطان زماننا...» د راډیو اَرشیف ته په مراجعه دغه ورته والی یا تکرار نغد کتل کېدلی شي .
د مولوي محمد شاه فضلي په خوله د سترې محکمې هغه اعلان که د رباني لپاره یو وېروونکی برخلیک په نښه کړ، ملت یې هم د تباهۍ او جګړو پر مرګوني سرنوشت محکوم کړ. ماضي ته د ور ګرځېدا مخه څومره ډب ده؟!
و الله اعلم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بیداری

مصطفی عمرزی

**منظور پشتین در منتهای صبوری یک ملت، در پاکستان، صدا شد. تکان این بیداری، زود به اعماق سرزمین هایی سرایت می کند که در تاریخ شبه قاره، اگر جایی برای ننگ و نام باقی مانده بود، بدون شک پشتونخوا بود.**
**میلیون ها مردم دربند در حصار پاکستان، زمانی بُریدند که در هفتاد سال تاریخ پاکستانی، شان آنان، عقده ی حقارت مزدورانی ست که به افتخار از خدمت نیا و اجداد خویش به انگریز، یاد مي کنند.**
**شاردکد جمهوری اسلامی کذایی، هرچند مفاد مقطعه یی داشت، اما به معنی تداوم رنج های مردمی که بیگانه را نمی خواستند، میلیون ها پشتون و بلوچی را عذاب مي دهد که مي بینند در نوبت سیاسی جمهوری اسلامی، پذیرفته نمی شوند. ...**

وقتی امواج خروشان حامیان پشتین، پشت پاکستان را به لرزه درآوردند، درک این تکان، فراتر از باور هایی رفت که گمان مي شد یک حقیقت تاریخی در یک واحد کذایی، تحلیل رفته است.
نارضایتی و آزرده گی، به جمع جوانی افزود (منظور پشتین) که با داعیه ی برحق قومی، به نام «آرمان» به قربانگاه رفته اند. هراس وارثان انگریز که از آن تجربه ی پلید تاریخ به مکاره گی روباه مي مانند، اما در روزگار دهکده ی جهانی، نمی توانند فجایع را کتمان کنند.
دست و پاچه گی در زمانی که در بازار آزاد افغانستان، روی القاعده، طالب و دعش چنه مي زنند، با صدای تحریک تحفظ پشتون، مرتجعانی را به خود آورد که به بلندی های افغانستان، چشم دوخته اند. شهید آرمان لونی در میدانی قربانی داد که شاید بزرگ ترین آزمون واحد سیاسی- کذایی جمهوری به اصطلاح اسلامی پاکستان باشد. ترور مبارزان پشتون و بلوچ، صدایی را خاموش نمی کند که میلیونی شده است.
تشکیل پاکستان و حربه ی اسلام سیاسی، اگر بغرنجی بود که با فاجعه ی تجاوز شوروی به افغانستان، سرنوشت میلیون ها پشتون را مکدر کرد، اما در روزگار تعقل، تکنالوژی و ارتباطات، به اکناف جهان رسیده است. زمان حال ما، با خصوصیت تنویر، از مرز هایی گذشته است که در جغرافیای ما، حتی از حصار سیاه پاکستان مي گذرند.
شاگردان متعصب مکتب انگریز در هفتاد سال واحد سیاسی پاکستان، هفتاد بار تحول کرده اند و توان ندارند در سلاخ خانه ای که به نام جمهوری به اصطلاح اسلامی ساخته اند، تمام ستم رسیده گان را هلاک کنند.
شهادت آرمان لونی، روی رگ های عصب میلیون ها پشتون و بلوچ، صورت گرفته است. شک نداریم که منظور پشتین، آخرین هدف ترور خواهد بود، اما آرمان های داعیه ی برحق در روزگار جهانی شدن، درد های مردمی را مداوا مي کند که کار خود شان را کرده اند.
آزرده گی از ستم ملی پاکستان، مردم را بیدار کرده است. پشتون های جغرافیای ستم، هرچند در جبر تاریخی، در حصار هویتی مانده اند که ریشه ندارد، اما هفتاد سال پس از تزویر سیاسی، کاسه ی صبر ندارند.
سعی مذبوحانه برای حذف جوانان شجاع پشتون و بلوچ که پاکستان را سرنوشت مکدر خویش مي شمارند، صدایی را خاموش نمی کند که میلیونی شده است.
حامیان منظور پشتین در فراسوی مرز های افغانی نیز بسیج مي شوند.
در تنازع چهل سال بحران افغانستان که از اجحاف بر پشتونخوا نیز منشه مي گیرد، افق هایی به چشم مي خورند که نباید در نبایسته های ملاحظه ی سیاسی از وحدت غافل شد.
آرمان افغانستان بزرگ، اگر فقط ایده ی شریف میلیون ها مردم است، روزنه ی این حقیقت بزرگ نیز مي شود که هویت مشترک، میلیون ها مردمی را تشویق مي کند که با درک همدیگر، خانه بسازند. این خانه، سیاسی یا فرهنگی، اما روی ارزش هایی استوار است که مردم از شناخت یک دیگر یافته اند.
در قربانگاه نو، شهادت آزادی خواهان، فراتر از شهادت آرمان لونی نیز خونین خواهد شد، اما در زمینه ی سرخ آن، مردمی تحریک مي شوند که در دومین تجربه ی بزرگ تاریخ پشتون ها و بلوچ ها در واحد کذایی جمهوری اسلامی پاکستان، تحریک تحفظ آنان شده است. آرمان لونی، آرمان میلیون ها مردمی ست که در درس های شهادت، بیشتر مي آموزند.
تنگنای بازیگران سیاهکار سیاسی در جغرافیایی که ارمغان هفتاد سال تاریخ آن، حتی کسب درآمد از شان میلیون های مردمی ست که مجبور شدند در حصار پاکستان بمانند، وارثان مکتب انگریز را راحت نمی گذارد.
بیش از دو قرن سلطه ی سیاه انگلیس در هند، اما ارثی نشد که گمان کرده بودند از تجربه ی جغرافیایی که به اصطلاح زوال آفتاب نداشت، شبه قاره را حفظ مي کنند. وقتی استادان مکتب سیاه با دانش استعمار بخش های دنیا، درمانده از هند خارج شدند، به یقین که تقلای شاگردان وفادار نیز به جایی نمی رسد.
اگر افغانستان خونین در بحران تحمیلی دست و پا نمی زد و اگر اخوانیسم سیاسی، فرزندان ما را در گرو آی.اس.آی دشمن جان مردم ما نمی کرد، شاگردان وفادار مکتب سیاه استعمار، با کدام دست آویز دیگر اجحاف مي کردند تا میلیون ها مردمی که نمی دانند «پاکستانی یعنی چه؟»، مجبور نباشند در زمینه ای بمانند که در جغرافیای به اصطلاح اسلامی، حتی از فرزندان شان تحفه گرفت تا پس از تحمیل مکتب های اجباری، وقتی در تحجر پخته شدند، هدایای گرانبهای زندان گوانتانامو باشند.
مردم، بیدار شده اند! طنین صدای بلندی که از تحریک تحفظ پشتون برخاسته است، از عقبایی منشه مي یابد که در بستر هفتاد سال، هرگز راحت نبوده است. میلیون ها مردمی که بیدار اند، میلیون ها صدای دیگر اند که هرگز از آرمان لونی ها، عدول نخواهند کرد.
ما در بیداری های جغرافیای همتباران خویش، به دقت مي نگریم که اگر در واحد کذایی، جایی برای عدل و احترام مانده باشد، آزمون شاگردان وفادار مکتب استعمار را فرصت مي دهد با پایان غایله ی بدترین درآمد های سیاسی، دیگر روی زنده گی میلیون ها مردمی قمار نزنند که خیلی «بیدار» شده اند.
دو و نیم قرن تسلط استادان، خروج سرافگنده از ملکی بود که گمان کرده بودند از مدرک استعمار ملت ها و مردمان، آنان را به آسایش های جاودانه ی هند مي رساند. بنابراین، چه تضمینی وجود دارد که شاگردان رو سیاه که فقط در تراژیدی افغان ها، مایه دارند، بتوانند مردمی را اسیر نگه دارند که به استادان شان «نه» گفته بودند؟
شهادت آرمان لونی، اگر رویداد غم انگیز ضیاع انسانی است، ذهنیت مي سازد که هراس از عدالت خواهی های مردم، هنوز هم ستم گرانی را بیدار نکرده است که فکر مي کنند با نیرنگ تشکیل پاکستان (اسلام سیاسی)، مي توانند مردم را فریب دهند.
دو و نیم قرن استعمار انگلیس، جای خالی باور هایی بود که متجاوزان بیگانه در هند از یاد برده بودند. هفتاد سال استعمار پنجابی در روزگار دهکده ی جهانی که اخبار موش های گدام دال پرویز مشرف را نیز بروز مي کنند، در فراسوی پاکستان، به مردمی نیز رسیده است که با هر گام و هر اثر آرمان ها، تحریک مي شوند.
ما در عصر آگاهی ها زنده گی مي کنیم.
شهادت آرمان لونی، تسلیت باد!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# له لندن نه د راغلي لیک ځواب

**درنو لوستونکیو دا لیک ماته د ننګرهار د چپرهار د کنډي باغ له لندن کلي څخه ندی راغلی دا له هغه لندن نه راغلی چې په امپراتورۍ کې یې لمر نه ډوبېده او اوس یې خلکو ته لمر د تبرک په ځېر ښکاري...**
**اشنا لیک دې را ورسېد، خو پداسی بده ورځ یې پرانیزم چې د وچ ډنډ په یوه مارکیټ کې د اور لمبو د خلکو له مالونو د ایرو ځلې ساز کړي.**
**د اور وژنې ګاډي هم د اورپه قابو کولو کې پاتې راغلي دي.**
**اشنا د لیک ځواب دې پر ځان پور نه پرېږدم، خو باور وکړه چې زما د لیکلو شوق هم دومره خپل شوی چې د رقعې د لیکلو په موډ کې هم نه یم. د یو داسې خوبولي ولس لپاره به زما لیکل څه ارزښت ولري چې د برچو پر ځوکو هم نه بیدارېږي او د خپل تقدیر فیصلې نورو ته سپاري.**
**په هر حال! ستا له پوښتنو سره یو ځای ستا د لیک یوه ځنډه هم له لوستونکیو سره شریکوم:**
**جبرانه! دلته خپلوي او رشته داري نشته، دلته هر ضمیر پرېشانه او هر ذهن اسیر دی. د ښکلیو له ارزانیه مې زړه مات شوی. دلته د شین سترګو واکمني او باداري ده او د تور پوستو سپین سترګي او بدماشي ده. ستا په قول، دلته هر زوی بې پدره او هره مور بې زویه ده. دلته د پټ و غرور مور مړه ده. کله مې چې د خپل کور کوځې او کلي دنګ دنګ چینارونه را په زړه شي، لپې لپې اوښکې تویوم. زه اوس هغه تازه ګل نه یم چې تا لیدلی وم، زه دلته اخبارونه خرڅوم او د نورو ضرورتونو تر څنګ د ګېډې دوزخ هم د اخبارونو له برکته ډکوم. دا کرښې په ډېر څه ومنه، دلته ژوند ماشیني دی او له ماشینه څوک ګیله نه کوي...**

جبران جبرائیلي

**لومړۍ پوښتنه، ژوند دې څنګه دی؟!**
اشنا ژوند مې د طبیعي او سیاسي موسم په ځېر ډېر ډاډمن نه دی، هره لحظه د یوې نوې فاجعې انتظار باسم. که ژوند د خوړلو او څښلو په معنا وي نو ژوندی یم او د ژوند کوم تعریف چې ماته شوی، له دې ژوند سره ډېر توپیر لري. دلته ژوند تر فارمي چورګوړیو بدتر دی. دلته د ژوند دایره ډېره تنګه او ترینګلې ده. هره ورځ په قتلګاه کې د خپل ژوند اعلان یوه بله تراژیدي ده.
زه نه پوهېږم د ژوند کومه کومه نادوده درته تېره کړم، زخمي ځیګر، داغلی زړه او که د ژوبل شوي احساس په تارونو ګوتې درته ووهم او که د فرعونیانو او نمرودیانو کیسې درته وکړم!
دلته ماته هر درېیم کس د خپل سر قاتل ښکاري. پدې څلورو لسیزو کې له هر مقتول سره زما روح قتل شوی. ته وایه! چې دلته به د ژوند او ژوندیو خلکو څه حیثیت وي!
ما د خپل څنګ او صف په ملګریو دومره ژړلي چې د مور و پلار په وفات مې هم دومره اوښکې ندي تویې کړې، ځکه چې په سترګو کې مې او ښکې نه وې یوازې وینې وې.
او ګوره پدې مجهول، مبهم او هیجاني حالت کې د قاتل ماتل پته هم نه لګي، تېره میاشت مې له ژوند سره یوه لوبه وشوه، په یوه اېنچ شلېدلي مخ د بلا له خولې را ووتم، د دریو امنیتي کمربندونو په منځ کې ساه اخلم. په لنډو به درته ووایم چې د ژوند په زندان کې د مرګ انتظار باسم!

**دویمه پوښتنه، څه مصروفیت لرې؟!**
څه خاص مصروفیت نه لرم، د لوړو زده‌کړو سندونه او سي وياني مې د کټ سر ته پرتې دي، ما خو د کار و ځوکۍ پیمانه موندلې، خو افسوس چې باغي ذهن، افغاني غرور او مغرور تندی مې د ځمکې خدایانو ته په سجدو لګولو ځان نه بلدوي. هغو یارانو چې ماته یې پېښور کې له موجوده نظام سره همکاري جرم او کار کول کبیره ګناه ګڼله هغوی اوس دلته د جرمونو او په کبیره ګناهونو افتخار کوي، خو زه لا پدې مقام فایض شوی نه یم.
دلته د انسانیت لوړ معیار پیسه ده، دلته لوړو ځوکیو ته هغه څوک ژر رسېږي چې د هندو د پرتوګ په ځېر تر بډې بې نمازه وي، دلته زما مصروفیت د غمونو خوراک دی، دلته لوی کمال ټګي، دوه رنګي او چاپلوسي ده.
اشنا! زه او س دلته د خپلو باباګانو له خولې نه د را وتلي درد او زګېروي په سوز و ساز ځان بوخت ساتم.

**درېیمه پوښتنه، له راغلیو مېلمنو سره دې ګوزاره څنګه ده؟!**
له مېلمنو سره هېڅ راز مشکل نلرم، نه یې په ژبه پوهېږم او نه ورسره د ځان د ملګرې کولو اراده لرم. هو! یوه خبره شته، د مهاجرت پر مهال چې کومو ملا صاحبانو څه ویل، اوس یې نه وایي او غلي دي. یوازې د حج و زکات مسئلې کوي. زه هم د هماغو امامانو مقتدي یم، څه چې د امام وي، هغه زما هم. کله کله مې زړه غواړي له مېلمنو سره یوه نیمه ګوته ماته کړم چې د څلور سوه بستریز روغتون د ترجمانانو حال مې مخې ته ودرېږي خدای شته چې پښه نیولی شم.
واوره! مور له تعلیمي سپیو سره بلد شوي یو، لمس او بویول یې عار نه ګڼو.
یو نادره واوره! نن سبا خو چینایانو د خرو د پوستکیو بازار دومره ګرم کړی دی چې مه کوه پوښتنه. زموږ د کلي یوه خرکار هم د خرو پوستکي په لوړه بیه پلورلي وو چې ځان یې ولسي جرګې ته کاندید کړی و او د ولسي جرګې د انتخاباتو ګټلو خوبونه یې لیدل، خو اوس خوارکی بیا د خرو پوستکیو ته پاتې شو. کاشکې مېلمنو د سپیو تر څنګ خره هم راوستي وای، بیا رانه پاکستان د خرو میدان نشو ګټلی.
یو خبره بله هم شته! مېلمه له کوربه ډارېږي او کوربه له مېلمه.

**څلورمه پوښتنه، که د خپل ښار له وضعیت نه مې خبر کړې؟!**
اشنا! په جلال آباد ښار کې ښه ډېر شخصي بلند منزلونه جوړ شوي، سرکونه او کوڅې په پخېدو دي، خو د هرات، کندهار او مزار په ځېر ښکلا او ځلا پکې نه لیدل کېږي. د غصب، چور و تالان بازار پکې اوس هم ګرم دی. دلته سمه د قیامت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځ ده، هر سړی پخپل غم ککړ دی. زمونږ د ټولني د تعليم يافته قشر حال هم د ويلو ندی، د سپينو چپنو خاوندانو پکی تر قصابانو هم ور اړولي، په راز راز نومونو او لابراتواري ټستونو د خلکو پوستکي ور اړوي. په ليکلي نسخه يي له قراردادي درملتون وال پرته د انګريز پلار هم نه پوهيږي.

هر چا ورته په شاتو کي زهر ورکړي. د مخدره موادو د روږديو او ښځينه سوالګرو تراکم پکي اوج ته رسيدلی. د غلا، ترور، اختطاف ، رشوت او خيانت تنور پکي ښه تود دی. د انعکاس ټلويزيون د مشر انجنير زلمي په خبر لسګونه خلک په ورته غم ککړ دي. د مدني فعالانو مارکيټ پکي د هندي فلمونو په څېر ښه ګرم دی، خو باور وکړه ددی خوارانو هيڅاته هم د يوي روپی خير نه رسيږي او نه يي څوک په خوله پياز خوري. د ارزانه شهرت د موندلو په خاطر د چارواکيو مدحي وايي. په پرديو دروازو سرګردانه وځي ننوځي. نيم درجن موسمي واليان پکي اخوا ديخوا شول، خو د خدای کور پکي هماغسي وران ويجاړ او خراب پروت دی. د والي صاحب په دور نما کي سرخ ديوال ښکاري، خو تر ډيري لاندي ورته سپين جومات نه ښکاري. والي صاحب ندی خبر چي په پلاستيکي تسپو اړولو د خدای کورونه نه جوړيږي.

يوه کوم بله را يادېږي، د جومات پيش امام يي دومره روپی وهلي چي د دوبی تجارت پري کوي.

اشنا! دلته ماته دوه تبديلی ښکاري، هغه تنکي ماشومان چي د طالبانو د حکمرانی پر مهال يي مسواکونه، تسبيح، رانجه، شيشي او خولی خرڅولي، هغوی اوس د افغان بيسيم، روشن، اريبا، اتصالات او سلام سيمکارتونه او کريډيت کارتونه خرڅوي.

زيری مي دربانديچي د کابل هډه هم د ښاروالی دروازي مخي ته راغلي نور هم هغه سيمټي ديوالونه، د ګلفروشی مخي ته د مزدورانو کتارونه ولاړ وي او مازيګر تش لاس خپلو کورونو ته ستنيږي.

ښاروال صاحب دي هم خير يوسي، له دي نه هم د شمشتو ډاګونه د ختو خړ خړ ديوالونه او له مرمرينو صندوقونو جوړي شوي دروازي او د يونس ماما ګاونډيتوب به يي هم هېر شوی وي، اوس دي ښاغلي ځان ته دوه ضد مرمی دروازي جوړي کړي او ضد مرمی موټر کي ګرځي. له نيکه مرغه چا تر اوسه پوري په ښار کي نه دی ليدلی، د کنچنی قبر او فيلوان کوڅه هم نه پيژني، نور درته څه ووايم!!

**پينځمه پوښتنه، په اوسني حالت کي څه وايي؟!**

اشنا! د افغانستان په قضاياوو غږيدل د هر چا د وس خبره نده، دلته له څلور درجنه ملکونو نه د پړي سر ورک دی، هر څوک په تياره کي غشي ولي، ګوره دلته د وينو او باروتو لوبه ښه ګرمه روانه ده، يوازی د جګړی شکلونه بدليږي، پدي بلواکی کي موږ له جنازو او دوعاګانو څخه نه وزګاريږو. مېندي او پلرونه هره ورځ د خپلو بچيانو قبرونو ته لاسونه لپه کوي، دلته يوازي د (۷) اوو سر ښکته شوی او د (۸) اتو پښي هم نه ټينګيږي. امامان بدليږي، خو تراويح زړي دي. د تابوتونو تحايف هر کور و کلي ته روان دي، خلک د شر و آفت له ويري د خپلو بچيانو جسدونه د شپي خاورو ته سپاري، خبريالان مو هره ورځ د پري شويو سرونو او جسدونو راپورونه جوړوي او زموږ د سرونو او جسدونو له برکته لوړ لوړ معاشونه اخلي.

اشنا! د رواني غميزي او ډرامي سريالونه به په رنګ رنګ رنګونو کي وګوري، دلته دوه رنګي او بدرنګي دومره ډيره شوي چي په شهدو هم خلک د زهرو ګومان کوي پدي خونړي توپان کي مو نړيوال ننداره کوي او مړي مو شماري. حاکم جريان او تش په نامه سياسيون د ځان د بقا په خاطر هره ورځ په پياله کي يو نوی توپان جوړوي. چارواکي او زورواکي هم د اور د بڅي په څير خلک ژړوي او خوني توروي نور تري د خير تمه حرامه ده.

اشنا! داسي ونه وايي چي يوازي زه خپل رباب د غم په نغمو غږوم يو ښه خبر هم شته، د سولي خبري را رواني دي، ګنګوسي هم شته چي اوربند به وشي، د افغانانو زوړ ارمان به پوره شي او هغه څوک چي په شر کي خير ګوري مخونه به يي تور شي، افغانان نور جنګ شور و شر نه غواړي ما هم د اوربند لپاره بدي را وهلي، خو د اور بل نه ويره لرم، د زماني د سياسي فرعونيانو د زوال او نابودی په هيله خپلي خبري د خپل ملا پدي بيت رانغاړم:

**څه چپه باد را الوتی ژوند د**
**خپله ژونده تنګ شو**
**غيرت ويلي شو د شرمه دوس**
**ستر شو دله تنګ شو**

# سيکولاريزم

اجرالدين اقبال

## په تېر پسې

دا مساله دقيقاً د «ريا» او «اخلاص» ترمنځ توپير ته پاتيږي. د ظاهري کړني له مخي «ريا کار» له «مخلص» سره هيڅ توپير نه لري؛ بلکي که د رياکار کړه وړه غليظ وي او خپل عبادت په پوره کش ويش ترسره کوي. له دي ټولو ځانګړنو سره سره، د کار ظاهر به يي کوم توپيرونه درلودای شي. څه چي توپير کوي «نيت» دی؛ د يوه نيت سوچه او خالص د الله تعالی لپاره دی او د بل خلکو لپاره. د سعدي(رح) په تعبير:

ان که چون پسته ديدمش همه مغز - پوست بر پوست بود همچو پياز
پارسايان روی مخلوق - پشت بر قبله مي کنند نماز
ای هنرها ګرفته بر کف دست - عيب ها بر نهاده زير بغل
تا چه خواهی خريدن ای مغرور - روز درماندګی به سيم د غل.

دقيقاً په همدي دليل، پيغمبرانو د وګړيو د کړنو پر «بڼي» - په تيره يي ټولنيزي کړني - څه کار نه درلود. په قرآن مجيد کي د پيغمبرانو عليهم السلام په اړه کوم دوديز او بياځلي تعبير کاريدلی؟ «پيغمبران مو درليږلي» په کومي ځانګړني؟ «مبشرين و منذرين» يا «بشير» او «نذير». په قرآن کي په ځلونو ځلونو دا تعابير کاريدلي دي:

كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً فَبَعَثَ اللَّهُ النَّبِيِّينَ مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ وَأَنْزَلَ مَعَهُمُ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ (بقره/۲۱۳)= (په پيل کي) ټول خلک په يوه لار روان ول او ترمنځ يي تضادونه نه ول، رو رو ټولني او پاړکی رامنځ ته شوي او تر منځ يي اختلافات راپيدا شول، (په دي وخت کي) خدای پيغمبران ولېږل چي (پر سم تګ) زيري ورکوونکي او (پر کږو لارو د تګ له پايلو) ويرووونکي ول او په رښتيا يي کتاب ورسره ولېږه»

رُسُلًا مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللَّهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ (نساء/۱۶۵) = (دا ټول) پيغمبران زيري ورکوونکي او ويروونکي لېږل شوي وو، چي د رسولانو (تر استولو) روسته خلکو ته د خدای په مقابل کي پلمه نه وي ( او پر ټولو غاړه خلاصه شي) او خدای بريمن حکيم دی».

په قرآن کي ددي آيتونو بېلګي ډيري دي. د قرآن په هيڅ ځای کي نه دي راغلي چي خدای پيغمبران د سياسي او ټولنيزو تيوريسنانو په توګه لېږلي ان دي ته په ورنژدي يو مضمون او هغه څرګندوني چي ددي مانا په وهم کي وي هم راغلي نه دي؛ خو مبشر او منذر په ځلونو راغلي دي.

د پيغمبرانو مهمترين کار تبشير او انذار او دا کار دقيقا د خلکو پر نيتونو د اغيزمنی پر مانا ده. د پيغمبرانو کړنه او هغه ټکی چي پکي پر مخاطبانو ډېر اغېز شينده، دقيقا د دوي نيتونه وو. او پيغمبرانو هڅه کوله چي نيتونه واړوي. له بېخه د پيغمبرانو مهمترين کار ژوند ته مانا ورکونه وه. ژوند ته مانا ورکونه په عمل کي د انسانانو نيتونه ته لوری، روح او منځپانګه ورکول وه.

د عمومي ديني کړنو په باب دا نظريه شته چي «عبادتي - ديني» کړني سمبوليک ارزښت لري؛ يعني يوه ظاهري بڼه او يوه باطني مانا لري چي بايد باطني مانا يي راوسپړو. شوني ده ځيني د نمونځ او روژي په باب دا مانا ونه مني؛ خو د اسلام د راښکاره کېدو له وخته تر ننه، عموم اسلامي انديالان په دي اند دي چي حج يو لړ سمبوليکي کړني دي. البته لکه چي پوهيږئ سمبولونه واحدي ماناوي لري او ټل تفسيريدای او بيا تفسيريدای شي. داسي نه ده چي وانګيرو د مانا زيرمه پای ته رسيدلی ده او د تفسير په ګوډي کي نوي مانا نه موندل کيږي.

هو؛ تقريبا ډيرو اسلامي انديالانو د حج په باب دا ګروهه درلوده چي د حج کړني سمبوليکي دي او ځانګړو ماناوو ته اشاره لري. دا چي بايد اوه ځل له بيت الله راوچورلو، بايد ځانګړي ستني په تيږو وولوو، بايد قرباني وکړو، بايد د شپي په مشعر کي پاتي شو، بايد سپين (احرام) واغوندو او په څير يي، دا ګرد سره سمبوليکي کړني دي؛ په دي مانا چي دا کړني خود په خوده اوڅار نه دي؛ بلکي پر حقايقو پرتي بڼي او پردي دي، چي بايد دا حقايق راوسپړو. ... **نور بيا**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افغانستان د کرنیزو ځمکو لغړېدل او بې غوري

اسماعیل لاروی

**ځمکه د خوراکي موادو د تولید او اکوسیستم د پایښت ژوندی سرچینه ده چې د ژوندیو موجوداتو د رنګارنګی، پایښت، د اوبو د رژیم ساتل، د خوراکي موادو دوران، د کاربن زېرمه کول او نور ګڼ مسایل ورپورې اړه لري. د ابادو ځمکو په ښارو او ویرانو بدلېدل په تدریجي توګه تر سره کېږي، د ځمکو نیمه وچېدل، بشپړ وچېدل، له نباتي پوښښه پاکېدل، د خاورو توږل کېدل او نور یې هغه مسایل دي چې په ټوله اوسنی نړی کې د ژوند د چاپېریال د څېړونکو او عالمانو د څېړنو او بحثونو غوښنه برخه جوړوي. د افغانستان خاورې د ناسمې او نامنظمې ګټې اخیستنې له سببه په وروستیو لسیزو کې په تدریجي توګه توږل شوې دي او خاصلخیزي یې له کمښت سره مخامخ شوېده، د خاورې ځینې ویجاړتیاوې تر دې حده شدیدې دي چې د انسان له لاسوهنې بغیر یې په طبیعي توګه جوړېدل ناممکن دي، یو هم د ځمکو په دښتو بدلېدو او تخریب لامل سېلابونه دي(استراتیژي ملی محیط زیست ۱۳۸۷ - ۱۳۹۱). د افغانستان د ژوند د چاپېریال د ملي اداري له لوري دا اندېښنه په دې وروستیو کلونو کې ښودل شوېده خو دا نه ده په ډاګه شوې چې تر کومه حده خاوره د دې هیواد له ویجاړتیا سره مخامخ ده، د خاورې د ویجاړتیا کچه څومره ده؟ او په ټوله کې د خاورو اوسنی وضعیت په دقیقه توګه نه دی بیان شوی چې دا د همدې محیطي ستونزې او ننګونې د هواري لپاره یو اړین او لومړنی بحث دی. ...**

د ځمکې د پاسني پوښ د ویجاړتیا له سببه په اکوسیستم کې ګڼ ناوړه تغیرات رامنځ ته کېږي، له دې تخریبه کرنه، د ژوند چاپېریال، د ټولنې په داخل او بهر کې اقتصاد اغېزمنېږي، د خاورې ویجاړتیا ځنګلونه، څرځایونه او زراعتي سیستمونه اغېزمنوي( بلانکو او لال ۱۳۹۲). د ځمکې پاسنی پوښ چې د عضوي موادو درلودونکی دی او د ژوندیو موجوداتو په ژوند کې یې رول خورا مهم دی، د خاورې د تخریب د عملیې پر اساس توږل کېږي، د نباتاتو لپاره مهم او اړین عناصر پکې د ځمکې له مخه مینځل کېږي او کمېږي چې بیا په اسانی په هغه ساحه کې د کر او شینوالي چاره ناممکنه شي. د نباتي پوښښ کموالی، د باد او اوبو په واسطه د ځمکې د پاسنی برخې توږل کېدل، د خاورې د ذراتو پاشل کېدل، ښوره زار کېدل، د خاورې په طبیعي جوړښت کې د شته عناصرو کموالی او بې ځایه کېدل د خاورې د ویجاړی له نښانو باله شي که په دښتو د بدلېدو د کنوانسیون د تعریف پر اساس د خاورې د ویجاړتیا مفهوم وګورو نو د ځمکې د مخ ویجاړتیا د وچېدو، نیمه وچېدو او نیمه مرطوب کېدو له اغېزو لاندې د انساني مداخلو او طبیعي پېښو له سببه رامنځ ته کېږي او په پایله کې د ځمکې د تولید کچه کمېږي(دکتور ګیتی۱۳۹۰). دا معلومه خبره ده چې خاوره تجزیه شي نو پر ځمکه او د ځمکې پر مخ موجوداتو به یې اغېزې پامور وي ځکه چې د ځمکې تخریب د نباتاتو د ودې سستېدو باعث کېږي، ځمکه او خاوره یو مفهوم نه لري خو په دې بحث کې یو د بل لپاره کارېدونکې کلیمې دي چې دلته بحث همدا د ځمکې د مخ د خاورې د ویجاړتیا دی(کرتز ۲۰۰۹) د خاورې تخریب یو ورو بهیر دی چې د خاورې څرګنوالی ګواښي او د حاصل په څومره والي اغېز کوي، د خلکو ژوند متاثره کوي او تر ډېره پورې وچې، نیمه وچې او په ټوله کې وچې ساحې له تخریب سره ډېرې مخامخېږي، د ځمکو ویجاړتیا او په بیابانونو بدلېدل د چاپېریالي بدلونونو لامل ګرځي، د اوبو او هوا د تغیر باعث کېږي، د انساني ټولنو او حیواناتو ژوند له خطرونو او ننګونو سره مخامخوي، ټولنیز، اقتصادي او اکولوژیکي شرایط ورسره تغییر مومي(آمال کار۲۰۱۶). باد او اوبه د خاورې د ویجاړتیا دوه اصلي لاملونه دي چې اوبه ایزې ویجاړتیا په ټوله نړۍ کې ۱۱۰۰ میلیون هکتاره ساحې اغېزمنې کړېدي چې د تخریب شویو خاورو ۶۵٪ جوړوي او د خاورې بادي تخریب ۲۸٪ سلنه جوړوي. د ځمکې د مخ خاوره په دوه ډوله خرابېږي چې یو په نورماله توګه د ټولې نړۍ ځمکې د بادونو له لګېدو سره کمه، کمه اندازه خپل پاسني ذرات بې ځایه کوي خو د انساني لاسوهنې له سببه د ځنګلونو وهل کېدل، سوزېدل، بې کنتروله څړ، د کرنیزو ساحو سوزېدل، ژوره یوې کارې د خاورې د شدیدې ویجاړتیا لامل ګرځي.

په نړۍ کې د ځمکو تخریب او ویجاړتیا هغه ستونزمنه مساله ده چې د ژوند چاپېریال ګواښي او د اکوسیستم پایښت یې له سوال سره مخامخ کړی دی. د ځمکې په کُره کې وروستي محیطي بدلونونه د دې باعث شول چې په ټوله نړۍ کې علمي او عملي خوځښتونه رامنځ ته شي. د ځنګلونو نړیواله ورځ، د محیط زیست نړیواله ورځ، د ځمکې نړیواله ورځ... نمانځل، په ۲۰۱۸ کال کې د دسمبر په پنځمه د خاورې د نړیوالې په مناسبت ډېر ټینګار پر دې و چې د خاورې مخ باید له چټلیو پاک شي او دا هم د خاورې په تخریب او کیفیت کمولو کې پامور رول لري، د ځمکې نړیواله ورځ چې هر کال د اپرېل په دوه ویشتمه نېټه نمانځل کېږي، په ورته مساله یعنې د ځمکې پر مخ د پلاستیکونو د کمېدو او له منځه تلو باندې ټینګار و چې دا هم د محیط د چټلی او د خاورې د ویجاړی باعث کېږي. دا ټولې نمانځنې، علمي سیمینارونه، څېړنې او په دې برخو کې له فقیرو هیوادونو سره نړیوالې مرستې هغه څه دي چې د ځمکې او محیط اهمیت یې زیات کړی دی. ورځ تر بلې د نفوس زیاتوالی، د کورونو او ماڼیو جوړېدل، په ښارونو کې د چاپېریال ککړتیا دوه چنده کړېده، بل لوری خلک د خپلو اړتیاوو د پوره کولو په خاطر له ښاره بهر ساحو څخه د صنعتي ساحو او سکونت ځایونو په توګه ګټه اخلي، دې چارو هم د شته نباتاتو پایښت او نباتي پوښښ زیانمن کړیدي(حسینی او ملګری یې ۱۳۹۵.) د ژوند د چاپېریال

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر وړاندې وروستي خنډونه او د راتلونکو ننګونو په باره کې اندېښنې د انساني ژوند و مرګ مسایل جوړوي. د هوا ککړتیا، د اوبو کمښت او ککړتیا، د ځمکو په دښتو بدلېدل او نور هغه موضوعګانې دي چې په اوسنۍ نړۍ کې د طبیعي علومو د څېړنو لویه برخه جوړوي. افغانستان یو له هغو هیوادونو دی چې هم یې د ژوند چاپېریال له خنډونو او ننګونو سره مخامخ دی او هم پکې کرنیزې او شنې ساحې په بیابانونو بدلېدونکې دي. د ځمکې تخریب د ژوند چاپېریال او د ژوندیو موجوداتو رنګارنګۍ باندې منفي اغېزې کوي، د ژوند په چاپېریال کې د تولیداتو او خدماتو د کموالي باعث ګرځي او پایداره پرمختګ له پښو غورځوي. د افغانستان د طبیعي منابعو زیانمنېدل تر ډېره د جګړه¬ایزو سیاستونو له سببه دي ځکه چې دلته اوږدمهاله جګړو یوازې د ارزښتونو د چور تالان اتلان تر شا پرېښودل. سیاستونه او حکومتوالۍ په نوره نړۍ کې هم په طبیعي منابعو، کرنه او محیط باندې اغېزې پرېباسي. (مشائي او سعید) وایي، سیاستونه پر اقتصاد را څرخي او اقتصاد کولی شي چې اجتماعي بدلونونه هم له ځان سره ولري. له ځنګلونو څخه د ګټې اخیستنې لارې هم له اجتماعي تغیراتو اغېزمنې دي.

**څه کول په کار دي؟**

د ملګرو ملتونو او اروپایي اتحادیې له لوري د افغانستان د ژوند د چاپېریال په باره کې د خپرو شویو معلوماتو په یوه برخه کې د ځنګلونو د له منځه تلو، غیر قانوني ښکار، د ځمکو د تخریب، طبیعي پېښو او د ناوړه چاپېریال په ارتباط د پلان په لومړي سر کې راځي: اکوسیستم د ژوندیو موجوداتو او انساني ټولنو د تامین زنځیر جوړوي، تاریخ راته وایي چې د ژوند د چاپېریال تخریب تر ډېره پورې د انسان په لاسوهنه پورې اړه لري، د خاورې، ځنګلونو، څړځایونو او شته طبیعي زېرمو ساتنه د افغانستان سولې او ټیکاو ته اړتیا لري. رښتیا هم سوله او امن د طبیعي منابعو د ساتنې او مدیریت لپاره لازمي دي که دا نه وي، حکومت او نظام به ګډوډ وي، خلک به لومړیتونه نه شي درک کولی او د ځمکې ویجاړتیا به هم د نورو مهمو موضوعاتو په څېر هېره وي نو ثابت نظام او د سولې په محیط کې ارامه ټولنه به د چاپېریال دې سترې ستونزې او ننګونې ته د خلاصون لاره مومي.

د F.A.O له لوري د کلیوالي جوړښتونو پر اساس د افغانستان د څړځایونو د ساتنې د پروګرام لپاره د پروفیسور ولفګنګ او محمود بې پروا له لوري لیکل شوې مقاله کې راځي: «د دې هیواد د پایداره ځمکو مدیریت یوه ستونزمنه مساله ده او دې مسالې ته یوازې کلیوال حللاره ټاکلی شي»(ولفګنګ او بې پروا ۲۰۰۹). دا سمه ده چې کلیوال هم په دې برخه کې مهم رول لري خو که نظام کلیوالو ته مناسبې لارښوونې ونه لري، د ځمکو د مدیریت او ساتنې چارې ورته ونه ښیي نو ناممکنه نه ده چې کلیوال دې بې د نظام له همکارۍ د ځمکو په ساتنه او مدیریت کې موثر ثابت شي. د خاورې د تخریب او ساتنې موضوع د خاورې پېژندنې، ځنګلپوهنې، زراعت، اقلیم پېژندنې، رسوب پېژندنې، هیدرولوژي، بندترلو انجنیري او د زراعت اړوند علومو ته اړتیا لري(بلانکو او لال ۱۳۹۲.) که په دې ټولو علومو کې د ماهرو او متخصصو کسانو لپاره یوه اداره جوړه شي او د محیط د دې سترې ستونزې او ننګونې لپاره مناسب پلان او طرحه جوړه کړي نو ممکنه ده چې تر یو حده د خاورې د تخریب او ویجاړتیا مخنیوی وشي.

وچې ځمکې د نړۍ ۴۰٪ خاوره جوړوي (اوما او اوګالو) چې همدا له شنه پوښښه د ځمکې د مخ لغړېدو باعث ګرځي او په طبیعت کې د بیاباني کېدو لار پرانیزي. د خاورې د تخریب او ویجاړتیا مخنیوی باید په ټولیزه توګه وشي، یوازې کروندګر یا هغوی چې د نباتاتو له پالنې سره سر و کار لري، د دې مسولین نه دي. د ټولنې هر وګړی د دې مسولیت لري چې د خپل توان برابر د خاورې د تخریب مخنیوي کې برخه واخلي. د هیواد د هرې برخې د ځمکو لپاره په سیاسي، اقتصادي او ټولنیزه توګه داسې یو پروګرام په کار دی چې پر اساس یې د خاورو او شته ټولو طبیعي زېرمو د ساتنې لپاره مناسب او لازمي کارونه وشي. وچکالي همېشه په وچو او نیمه وچو ساحو کې راځرګندېږي او د شدت د کمولو لپاره یې د تحلیل او څېړنو پر اساس د مدیریت ځینې لارې موندل شویدي.(هنری او ملګری یې ۱۹۹٦). نباتاتو د ځمکې مخ پوښلی وي؛ خاوره د باد، باران، ځمکې ښویېدنې او نورو خطرونو څخه ژغوري. په افغانستان کې دا پوښښ چې خاوره له تخریبه ژغوري، تر ډېره له منځه تللی. د ځنګلونو لویه برخه وهل شوې، څړځایونه په بشپړه مانا تخریب شویدي او کرنیزې ساحې په ښارونو او کلیو بدلې شوېدي او په دې ټولو محیطي بدلونونو کې د د وچکالي او د ځمکې د سطحې د اوبو ښکته تلو اغېزې هم پاموړ دي.

د بحث وروستۍ برخه به په دې راټوله کړو چې څنګه کولی شو، د افغانستان د ځمکو د ویجاړتیا او تخریب مخنیوی وشي او شته ساحې له خطرونو څخه وژغورل شي. لومړی د هغو ځمکو په باره کې څېړنې په کار دي چې ویجاړې شوې او په دښتو بدلې شوېدي، دا ساحې معلومول، لاملونه او حل لارې ورته موندل په کار دي. په دویم قدم کې د نباتي پوښښ د له منځه تلو لاملونه په ډاګه کول په کار دي، څړځایونه، ځنګلونه او کرنیزې ساحې ولې په شاړو بدلېږي؟ دې ډول پوښتنو ته باید اساسي او دقیق ځوابونه وموندل شي. درېیم؛ د ژوند په چاپېریال کې د انسانانو ناوړه مداخله کنټرولول په کار دي او تر ډېره د ژوند د چاپېریال د ویجاړتیا او ناوړه شرایطو رامنځ ته کوونکی پخپله همدا انسان دی. د ښارونو او کلیو بې نظمه پراختیا د ځمکې په ویجاړۍ، چټلۍ او د شنه پوښښ په له منځه تلو کې پاموړ رول لري. د یو منظم، باثباته او وطن جوړونکي نظام په امید چې دا ډول حیاتي او اندېښنې وړ ستونزو او ننګونو ته مناسب ځوابونه ولري.

اسد دانش

## هیڅه هم پټ نه پاتې کیږي!

زموږ لمسیان به لعنتونه را باندې وایي، چې د نړیوالو لخوا د احسان په زنځیرونو تړلي له ډالرو ډک کانتېرونه مو هېواد ته راغلل او په نره له بهره راغلیو غلو درنه په رڼا ورځ لوټ کړل، نه مو د وطن ښه پرې



وشوه او نه په وطن کې د اوسېدونکي اړمن انسان!
زموږ لمسیان چې تاریخ لولي پر موږ به هره ورځ سل ځله نفرین او لعنت وایي چې ای بېغیرتو! تاسې د خپل وطن واکمن وئ، ولې مو د خپل وطن هر څه د یو څو ورځو مېلمنو ته پرېښې ول؟! هغو مېلمنو ته چې ان ستاسې په ملي ژبو هم نه پوهېدل، بهرني پاسپورټونه یې په مخ جېب کې ایښي ول، ټکټونه یې تیار بوک ول، نه یې په بده ورځ کې لاس درکړ او نه یې د خوشحالۍ د مخ ځلا در باندې ولیدله!
زموږ اوسنیو ځوانانو ته به یې اولادونه پېغورونه ورکوي چې تاسې څومره بې ننګه وئ چې د څو سوو ډالرو په بدل کې مو ښېګړې غندلې او بدګړې مو ستایلې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پر بېړو او باج اړ ولسمشران

شهرت ننګيال

**قدرت الله شهاب د پاکستان مشهور بيروکرات تېر شوی، متحده هندوستان کې د CSS له ازمويني په تېرېدو د پېرنګي له وخته بيروکراسۍ ته ننوتلی دی.**
**د فيلډ مارشال ايوب خان حکومت کې د وزارت تر کچې په لوړو پوستو پاتې شوی دی، قدرت الله شهاب، ممتاز مفتي او اشفاق احمد داسې يو مثلث را منځته کړی و چې يو بل ته په پاس ورکولو يې د پاکستان لپاره د روحانيت په پرده کې په خورا سياسي او روحاني بڼه جعليات تخليق کړي دي. ده پخپل کتاب شهابنامه کې يوه خاطره را اخيستې چې له ايوب خان سره له اسلام آباد څخه ايبټ آباد کې د هغه پلرني کلي ريحانې ته تللی و، ماښام کلي ته په رسېدو چې لا مېلمانه په مېلمستون کې نه وو ځای پر ځای شوي، مارشال ته يې د مور خوابدي ياده کړه. ...**

دده په خبره مارشال له خپلې مور د ښښنې او پخلاينې په پار دی هم ورسره کړ، د خوابدۍ يوه خبره دا وه چې پټواري به پخوا ځلوېښت کلداري بډې ترې غوښتې اوس ورته وايي، زوی دې جمهور رئيس دی، له سلو کلدارو په کمو نه قانع کېږي. پټواري د رتبې او مقام له اړخه زموږ له سرکاتب سره برابره رتبه ده، خو د ځمکو او جايداد په برخه کې يې واک له جمهور رئيس لوړ دی، هماغه کيسه لکه رتبه يې خورد ضابط خو جنرال په څېېره وهلی شي.

څو ورځې وړاندې يوې رسنۍ د ولسمشر غني د پلرني کلي، کور او جايداد په اړه يو لنډ راپور برابر کړی و، د بزګرانو په خبره څرنګه چې له څو کالو را هيسې طالبان ترې عُشر او زکات وړي، ټول حساب کتاب يې د جمهور رئيس د تره په واسطه ارګ ته ورکړی دی.

د بزګرانو له څرګندونو په ډاګه ده چې طالبانو د پټواري په څېر د جمهور رئيس مقام ته په کتو د عُشر او زکات کچه نه ده ټاکلې.

عُشر او زکات فقهي بحث دی، بڼه او کچه يې څرګنده او کره ده، که نه طالبانو به هرومرو د جمهور رئيس مقام له عامو خلکو سره په يوه کاڼي او تله نه وای تللی.

د راپور له مخې طالبانو د ولسمشر پلرنی کور خپل مرکز ګرځولی، د جنګياليو او چريکانو د مرکزونو کيسه تر ډېره سره ورته ده.

پخوانيو مجاهدينو له بمباريو د خونديتوب په پار خپل مرکزونه زموږ د سيمې په برېښناکوټ کې رغولي وو، ځکه چې د ملي شتمنۍ او بيت المال په توګه برېښنا کوټ د شوروييانو او رژيم له بمبارۍ خوندي و. پر دې سربېره چې په برېښناکوټ کې دريو تنظيمو خپل مرکزونه ځای پر ځای کړي ول، حکمتيار بنفسِ نفيس د برېښنا کوټ په بڼ کې خپلې وينا ته يوه لويه غونډه هم را بللې وه، خو د بمبار کوم ګواښ ونه ليدل شو.

د مجاهدينو لخوا د برېښناکوټ د نه ويجاړېدو لامل هم ښايي همدغه و چې تنظيمو خپلو مرکزونو ته خوندي چاپېريال پېژندلی و، که نه ددغسې تاسيساتو انجام څرګند دی. کابل تر پايه ددغه برېښناکوټ د کارګرانو معاش او لګښتونه له خپلې بودجې څخه اجرا کول، شوروي او د هغه وخت رژيمونو په څوارلس کلنه جګړه کې د دريو تنظيمو د مرکزونو له شتون سره برېښناکوټ بمبار نه کړ، خو اوس که د کوم کور د دېوال سيوري ته طالب دمه شوی وي پر هماغه شپه له وړو زړو پر بل مخ اوښتی وي، نه جومات ګوري نه مدرسه. طالبان چې عُشر اخلي يوه پارچه د سند په توګه ورکوي، د پارچې له پاسه اسلامي امارت، ولايت، ولسوالي او ترې لاندې د عُشر او زکات څانګه، د عاشر او عُشر ورکوونکي نوم کښل شوی وي.

وړم کال لندن ته په تلو په هيترو هوايي ډګر کې خدای خبر څه پېښه وه چې د مساپرو د بدني پلټنې پر مهال يې زما په کاغذونو کې د عُشر پارچه را واېستله، خو له څو سرسري پوښتنو سره يې د وروځو او اوږو په غورځولو په مصنوعي موسکا پارچه بېرته را وسپارله. که دغه پارچه د کابل پلټنو کې تر لاسه شوې وای خدای خبر څه به رابانديې راغلي وو!

پر افغانانو داسې يوه جګړه تپل شوې چې تر اوسه يې د تعريف درک چا ونشوای لګولی، دلته د جمهور رئيس د جايداد ټکس د ماليې وزارت پر ځای دده پر ضد د جګړې اړخ تر لاسه کوي، د طالبانو د عُشر پارچې په ارګ کې مجرا کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درې واکمن- یو برخلیک

## د تاريخ په هديره کې درې محکوم قبرونه

شفيع الله خان

ماته د ولسمشر انجام د هندوستان د وروستي پاچا بهادر شاه ظفر او مسلمان هسپانوي رياست وروستی پاچا ابو عبدالله محمد را يادوي.

ظفر پاچا د خپل ژوند وروستی ورځې په رنګون کې له انګريزانو سره په بند کې تېرې کړې. انګريزانو په رنګون کې يوه «هندي چوکۍ» ورته جوړه کړې وه، پاچا سلامت به پکې ناست و او د باران څاڅکي به يې شمېرل. خپلو ليدونکيو ته به يې په تلوسه ويل:

**زه هغه بدمرغه يم چې په هېڅ ځای کې د خښېدو لپاره به هم ځای ونه لرم..!**

انګريزانو يې د خوړنځي، کاليو او پيزار لپاره وظيفه او وخت ټاکلی و، کله چې به راتلل، نو د پاچا په سترګو کې به اوښکې ډنډ شوې او په اوتر غږ به يې وويل:

**«افسوس دې په تا وي ظفر پاچا!**

**الله(ج) پاچا کړی وې، خو ته سوالګر شوې..!».**

د بهادر شاه ظفر مړی نن هم په رنګون کې خښ دی او تاريخ د حال په ژبه په چيغو- چيغو وايي:

**هغه پاچا چې خپل سلطنت د نورو په لاس پلوري هغه به له نړۍ لکه سوالګر درومي..!**

د ابو عبدالله محمد انجام هم همداسې شوی و، هغه د الحمراء کلياني (کونجياني) فرنېنډو او د ازابيلا ملکې ته ورکړې وې. له غرناطه هديرې يې خپل پلرونه او نيکونه را ووېستل او د مراکش ښار فيض ته يې راوړل او د خپل ژوند وروستی ورځې يې په فيض ښار کې په خيرات غوښتو تېرې کړې.

هغه به د خلکو مخې ته کچکول نيوه او ويل به يې:

**«د الله په نوم د غرناطې وروستي پاچا ته يوه انه ورکړئ!».**

که کوم چا به پوره روپۍ ورکړه، بېرته به يې ورکوله:

**«نا! زه له يوې انې ډېر حق نه لرم!».**

دا ابو عبدالله محمد هم له مرګ وروسته د تاريخ هديرې په يوه ګمنام قبر کې پرېووت، خو د هغه عبرت نن هم تازه دی او غني غوندې خلکو ته په زوره زوره وايي، **تقدير چې څوک واکمن کړي خپل ځانونه دې په خپله نه سوالګروي!**

ماته دا شېبه د ايران شاه هم ذهن ته راځي، د ايران شاه يوه داسې هستي وه چې د شاهۍ په غرور يې د ايران جنتري زر کاله را مخکې کړې وه او يو ځل يې د لاس ساعت درېدلی و، نو د ټول هېواد ساعتونه يې يو ساعت وروسته کړي ول، خو بيا ده هم له امريکې سره داسې اوړې او خوله وهله لکه غني يې چې دا يو څه موده له امريکې سره وهي. کله چې د ايران شاه له ايرانه وتښتېد، نو پخپل سامان کې يې دوه ټنه د ايران خاوره هم کېښوده، بيا داسې يو وخت راغی چې د ټولې نړۍ دروازې يې پر مخ وتړل شوې، د مصر د ولسمشر انور سادات پرې زړه وسوځېد او د قبر لپاره يې په خيرات کې څو متره ځمکه ورکړه، د ايران شاه د خيرات پر همدې ځمکه وروستۍ سلګۍ وهلې دي. د ايران د پاچا قبر نن هم په قاهره کې دی او بې رنګي او سپيره توب يې نن هم دا نارې وهي:

**کوم واکمن چې له خپلې خاورې سره درغلي کوي، د پناه لپاره به د پردۍ خاورې خيرات غواړي!**

**د ولسمشر غني جرم څه دی؟!** دا ډېره مهمه پوښتنه ده! غني په بنسټي توګه د ولس د توقعاتو -احساساتو او د خلکو د نظرياتو قاتل دی- د خپلې واکمنۍ له پيل سره يې د جنګ بڼه بدله او نوې ډلې حضور کړې. طالبان او نور مخالفين يې په ۲۱ ډلو بدل او ورسول. هېواد يې نور هم په جنګ کې ډوب کړ او په هره غونډه او سفر کې وايي، هېواد د تجزيې لور ته رهي و، دښمن مو مهار کړ، په دې خوشو- تشو د هېواد بېچاره ولس له تېرو څه کم پينځه کلو راهيسې تېرباسي.

غني يوازې د خپل واک لپاره قانون و انصاف ولوبول، خو د خدای رسۍ تړل کوي او د نورو هغو غوندې به ده ته هم هېواد ځای نه ورکوي او پخپل اصلي کور -امريکا- کې به هم ازاد ونشي ګرځېدی.

د پرون واکمن نن په امريکا کې دنده ګوري -فرنېنډو مارکوس- هم د غني فکري ورور و، له هغه سره هم همداسې شوي ول، هغه له فيلپاينه په تښتېدو امريکې ته ورسېد، امريکې ورته په هونولولو کې پناه ورکړه او خپل وروستی عمر يې د پناه اخيستونکيو لپاره د ځانګړې دندې اخيستو په کتارونو کې په درېدو تېر کړ.

هسې خو ډېر ورته د زر کلن کېدو دعاوې کوي، خو زما يو مشر دوست هره ورځ له لمانځه وروسته د غني د عمر د دومره اوږدېدو دعا له خدايه غواړي چې کاش دلته قضا خپلواکه وای، عريضه يې پرې کړې وای او د سزا په ورکولو يې زړه يخ شوی وای. زه يې د دعا په اورېدو اکثره وايم، محکمه ښايي امکان ونه لري، ځکه په دې هېواد کې ډېر نور لوی لوی ګناهګار په ملي بيرغ پوښل شوي خښ کړل شوي دي. غني به څوک ور وړاندې کړي، خو موږ به د تاريخ او وجدان په محکمه کې د غني د محکوميت ننداره کوو، ځکه خدای(ج) ځينې له اروا اخيستو وړاندې د خيراتګرو په کتار کې ضرور دروي، هغه يې يو ځل له واکمنيه، سوالګرۍ ته خامخا جوړوي.

...نړدې ده اشرف غني هم په دې ځلور لارې کې ډېر ژر ودرېږي...

# میلمه افغان چارواکي او...

۴. حکومت، ارګ او ولسمشر يوازې د څو کورنيو او ډلو له خوا انحصار شوي دي، ولسمشر دې ته پام نه کوي او هر څه چې دوی ورته وايي هماغه کار کوي...

۵. هغه ډله چې ولسمشر، ارګ او حکومت يې انحصار کړی دی د اسلام مبارک دين، افغاني کلتور او درنو ارزښتونو ته هېڅ ډول ژمنتيا نه لري؛ چې د دوی ددې کار بويونه د ارګ له دېوالونو بهر هم راووتل، د کفر، فحشا او شراب خورۍ خبرونه يې په رسنيو کې په پراخه اندازه خپاره شول چې هم يې په ګور دننه او هم بهر د افغانستان د خلکو د سپېڅلي حرم (ارګ) عصمت داغدار کړ. له داسې خلکو سره به تر هغې مبارزه کوو چې له دندو لېرې او محکمې ته راښکل شوي نه وي...

۶. حکومت د هغو کسانو پر ځای چې بهرنۍ تابعيت او پاسپورټونه لري هغه ځوانان په دندو نه ګوماري چې په هېواد کې دننه ژوند کوي، خو دا کار ډېر اړين دی ځکه هغوی چې بهرنی تابعيت لري په هېواد کې د ټيکاو او پرمختګ را وستلو لپاره کومه هڅه نه کوي او چې کله هم ترينګلي حالات ويني نو بهر ته تښتي، خو په مقابل کې يې هغه کادرونه او ځوانان چې همدلته له خپلو کورنيو او شتمنيو سره اوسېږي په هېواد کې د امن او سوکالۍ را وستلو ته ژمن دي، دوی که له يوه لوري له خپل کلتور او ارزښتونو سره بلد دي له بل لوري يې خپل او د خپلو اولادونو راتلونکی له خپل هېواد سره غوټه کړی دی...

۷. کله چې ولسمشر يو څوک په لوړه دنده وګوماري نو هر کله يې چې خوښه شي په ډېره بېرحمۍ، ديکتاتورۍ او د هر ډول اصولو خلاف يې ناڅاپه له دندې لېرې کوي چې هم يې شخصيت ته درونډ ګوزار ورکول کېږي او هم کومه دنده نه ورکول کېږي په دې مانا چې د دوی لپاره هېڅ ډول مصئونيت په نظر کې نه وي نيول شوی، ځکه خو که هر څوک په دنده وګومارل شي نو ددې لپاره هم فساد ته مخه کوي چې که چېرې سبا ناڅاپه له ناڅرګند برخليک سره مخ شو نو لږ تر لږه به خپل ژوند په هماغه لوړه سطحه پر مخ بوځي، ځکه که د بېلګې په توګه يو ځل څوک وزير شي او ناڅاپه له دندې لېرې شي نو بيا هغه نشي کولی چې د هېواد په دې خرابو حالاتو کې د عادي وګړي په څېر ژوند وکړي. موږ مبارزه کوو، چې د داسې اشخاصو لپاره د دندې او د شخصيت مصئونيت تر لاسه کړو...

د يادونې وړ ده، زموږ هغه کادرونه چې په بهر کې يې زده‌کړې کړې دي او خپل راتلونکی يې په دې هېواد پورې تړلی دی زموږ وياړونه دي او موږ يې مخالفت نه کوو...

**دويم: غوښتنې**

موږ د پورته لاملونو له مخې د خپل وجدان په غږ اړ يو چې مبارزه وکړو، ځکه نشو زغملی چې دا ځورېدلی او د کلونو کلونو بدمرغۍ ځپلی ولس د هغې مرجع له لوري هم وځپل شي چې هلته دوی د ژغورنې هيلې غوټه کړې دي او د امېدونو ډکې سترګې يې په هماغه لوري نيولی دي...

موږ د مشرانو، ځوانانو، ليکوالو، فرهنګيانو او فعالانو په توګه په ډله‌ييز ډول له جلالتمآب ولسمشر څخه لاندې غوښتنې لرو او کلکه هيله مو ده چې ومنل شي، خو که ونه منل شي نو موږ به خپله مبارزه او مقابله لا هم پسې پراخه کړو او له هېڅ ډول خطرونو څخه نه وېرېږو...

**پاتې د پښتۍ ۳ مخ**

**سکندر ميرزا د پاکستان ولسمشر هم دې ته ورته برخليک باندې محکوم کړای شوی دی. دی چې فيلډ مارشال ايوب‌خان له واکه لېرې کړ، ايله يې يو سر دوه غوږه له هېواده د وتلو مخه ومونډلی شوای. کلونه يې د لندن يوه هوټل کې کار کاوه، په مرګ يې د جنازې او قبر لپاره کورنۍ په لندن کې د لګښتونو مخه نشوای ليدلی، هغه وو چې په لندن کې د ايران سفارت دده مړی ايران ته يووړ او هورې يې خاورو ته وسپاره... (اوربند)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مېلمه افغان چارواکي او زموږ تګلاره

اسد دانش

بسم الله الرحمن الرحیم

**سریزه**

انسان تر نن ورځې پورې له راتګ سره سم د دوو شیانو لپاره جګړه پیل کړه:

لومړی، مادي ګټې چې په ترڅ کې یې وکړای شي په دې نړۍ کې د ژوند پر مخ بیولو لپاره اساسي اړتیاوې برابرې کړي او ځان له جسمي ستونزو وژغوري...

دویم، معنوي ارزښتونه، خدای جل جلاله انسان ته د عقل داسې ورښکلې چې له مخې یې کولای شي د شیانو او پدیدو په اړه تفکر او تعقل وکړي...

کله چې انسان د هر څه په اړه په فکر کې ډوب شول، د بېلابېلو شیانو او پدیدو په اړه یې یو له بله جلا جلا پایلې او برداشتونه تر لاسه کړل... ستره ...

[illegible]

**تګلاره**

**لومړی: د مبارزې لاملونه**

[illegible]

پاتې ۱۲ مخ

## مېلمه افغان چارواکي او...

**زموږ غوښتنې دا دي:**

[illegible]

**دریيم: زموږ د مبارزې ډول**

[illegible]

**پایله**

[illegible]




حفیظ الله تراب

[illegible]

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**